ولی محمد نورزی ۲۰۱۲/۰۱/۳۱

# کرکه، نفرت، تعصب او کینه

## ولی د انسانانو په منځکي ناوړی اغیزی لري

په یوه انسانی ټولنه کې خلک دیوه اخلاقي حقانیت په چوکا ټ کې خپل د ژوندون لارې چارې داسي پرمخ بیا یی چي د یوی پاکي او سپیڅلي ټولنې په درشل کي د ژوند د ښکلا، محبت، صمیمیت، انصاف، عدالت، رضایت، انسانیت خوندوره آرامه فضا په خپل نیړدي چا پیریال کي داسې سمبال کړی چه د ده عزت، شرافت درنښت او د ښګېڼو اصلیت پکښې نغښتي وی. مګر د دی ټولو نیک مرغیو لاسته راوړنه هم آسانه کار نه دی.
ولې ددي ترڅنګ انسان بیا دخپل جوړښت له پیل نه د نورو روانی خطرناکو نا خوالو مرضو او نانداروېو سره لاس او ګریوان دی، چه دده د ژوندون او نژدی چاپیریال ماحول دومره تنګ، محدود او زیان من شي چه ترمرګه پوری د هغه دعلاج او له منځه وړولو توان او واک نلري. دغه ناخوالي غمیزي د نفرت، کرکې، بخیلی، نا سالم رقابت، بد بیني، خود خواهی، جها لت، انتقام، قهراوغضب، دښمنی او مخا لفت په بڼه د انسان په روانې او شعوري سیستم کي داسی ور ګډی شي چه د خلاصون لاري ځینی ورکي کړی.
نن زمونږ په افغانی ټولنه کي هم دغه ویروس او خطرناکه مرض داسي مخ په وړاندی درومي او سرایت کوي، چه د ورکیدو لاري چاري یی ستونځمنی ښکاري. زمونږ د ټولني د انسانی جوړښت د خلکو فکری، شعوری، سیاسی، اجتماعی، روانی، اخلاقی، او قبیلوی بنسټیزه سمونوالې په پراخه کچه ډیر زیات خراب شوی دئ، چي مونږ نن ولی د یوی ښکلي خوندوری ټولنی پرځای د یوی پاشلي دړی وړي ټولني خاوندان یوو. که څه هم زمونږ د ټولني خلک په پراخه پیمانه او بشپړه توګه د سواد او زد ه کړی بر یاوی نلری، خود پوهیالي وړپوهانو او دلوړوزده کړو خاوندانو هم د دي پروسی په لمنځه وړلو کي هڅي نه دي کړي او دوي په خپله هم په توروتیاروکي ډوب دي. دوي په لوی لاس ځان د تورو تیارو وکندوته سپارلی دی. اود په ما یی څه حالت یی غوره کړی دې.
د بیلګي په توګه: مونږ یوځل د افغانیت ترهویت لاندي په پښتون، تاجک، هزاره ازبک، ترکمن، نورستانی، بلوڅ، پشه یی او نورو کوچنیو قبیلوسره بیلېږو او بیایه دننه کي هرتبرپه خپلو منځونوکي په لسګونو ډلوټپلو باندی سره ویشل کیږی. چه داکارزمونږد ټولني د ودی او پرمختیا ټولی روانی چاري او بریاوی د سکوت او ځنډ سره مخا مخ کړې دي.
د دیرش کلنې اوږدي غمیزې جګړي لا مل زمونږ افغانی ټولنه او خلک نورهم سره جلا او پردی کړل. د جګړی ناوړه ناورین زمونږد هیواد د سلو کالو شتمني او هستي داسی ویجاړه او ویرانه کړه چه تر نن ورځی پوری دا ښکلي وطن د اور په لمبوکي سوځي او لوګي یی د ټولی نړي و انګړ ته رسیدلي دی، چه پایلي یی خرابي او ورانی ښکاري.

زمونږ د خلکود نیکونو د تیرتاریخ ویاړنی او بریاوی د نن ورځي کمزورو بی حرمتو چټلو او نا پاکو کسانو پواسطه دبدبینیو، غضب، نفرت او کرکي د ناورین بازارتود کړی دی.
په سیاسي او اجتماعی برخو کي ټولنه او خلک سره بیل دي. د حقوقو او عدالت تله او ترازو پریوه اړخ پروت دي. ا خلاقی او اقتصادی فساد د هیواد د پرمختګ ټولی چاري په ټپه درولې دي. د مساواتو، عدالت، دوستی، یووالي، حقانیت اواصلی قضاوت ځای بډی، رشوت، غلا، دوکه بازی، شکنجي، ظلم او ناروا نیولی دي. کرکه او تعصب په ډیرګړیندی توب سره د افغانانوو مغز او پوست ته ننوتلی ده. او دیوی لویی بد مرغي لوړو اوژورو ناخوالو زمونږ کورنې او بهرنی چاپیریال ډیر تنګ کړي دی.
قومي او سمتي تعصبونو او کرکی زمونږ د انسانی ټولني جوړښت ډیر ګډوډ کړی دي.
د محبت، دوستی. ملګریتوب، مهربانی، اوعطفیت روحیه په سترګو نه لیدل کیږی. خواخوږی، شفقت او د پیوستون احساس خو بیا د ملګرو، دوستانو او د فامیل د نژدی غړو په منځکي هم درځ او چاک اچولی دي، چی نښاني او بیلګیي و هرچاته له ورا یه ښکاري.

د اروا پوهني پوهیالان په دي نظر دي چه کرکه او نفرت دیوی ډلي ټپلی انسانانو په منځ کي دکرکي د بنسټ پالنی بنسټ ایږدي او بیا کرارکرار خپل منفی دریځ د انسانانوپرضد د هرډول زور زیاتی، سرغړوني، بربریت او محرومیت وسیلو ته لاره پیدا کوي.
کرکه او نفرت دیوه منفي وسیلي په توګه د جاهلو بی منطقو انسانانو پواسطه دهغوي ناوړه عمل او چلند ته عاموالی ورکوي او د یوه ځانګړي ډلي په وړاندی خپلو زور زیاتیو او د ناوړو احساساتو دریځ ته قانونیت ورکوي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د۱۹۷۳ میلادی کال د چنګاښ کودتا را وروسته بیا ترنني امریکایی عصری دیموکراسی پوری د سوسیالیزم او امپریایزم ناوړی سیالي اغیزی افغانستان دپردیو بهرنیانو د لاس وهنې او تجاوز لوی ډګر ګرځید لی دي. د دي ناورین په اوږدوکي په زرګونو افغانانو خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړي، او دخپلي کورني، یارانو او دوستانو د مجبوریت په اساس دهیواد دتودې غیږی څخه د نا معلوم وخت لپاره محروم شول. ولی ځینی بیا دهمدغه اړودوړ اوجګړیزو غمیزو څخه ژوندي راووته او یا دجګړو په وسیله داسی شتمن او هستمند شول چی دسترګو په رپکي میلیونر او میلیادر وګرځیدل.

نو دلته د دغو غیرو مستحقو غلو او داړه مارانو کرکه او نفرت دیوی انساني ټولني پرضدد خپلو بی وزلو خلکو په مقابل کي را پورته شو. دوي د پیسو او ډالرو په وسیله دهیواد ټولي شتمني غصب او چور کړی. ولی پرځنګ یی دظلم ، تشدد، زورزیاتی، تجاوزاو د قانون دسرغړونی نه په ګټه اخیستلوسره دانسانی ژوند او انسانی ټولنی پرضد د دی رغنده مساوی چوکاټ څخه په زغره ووتل او دیوه غټ مافیایی ګروپ په بنسټپالو او زورواکانو باندی بدل شول. چه نن زمونږ خلکو او ټولنی ته یو ستر ګواښ دی.
بله ډله د ذهنی روشنفکرانو په نوم چه د تحصیل او زده کړی لوی سالاران بلل کیدل دغربی دیموکراسی تر سیوری لاندی په ډیره ماهرانه توګه د خلکو دخدمت د چوپړتر عنوان لاندی د کرزی په تحمیل شوی او کمزوري حکومت کی د خدمت په نامه ورګډشول.
دغو غربی سالارانو دهیواد سیاسی، اجتماعی، اقتصادی او اخلاقی ماحول دومره چټل اوککړ کړی دي چه د بډی او اخلاقی فساد دچوراوچپاول توره تیاره هری خواته خپره ده.

دافغانی جګړی تش په نا مه اتلان او مجاهدین بیا بله ډله ده چي دزده کړو دلمرنیو درجو څخه بي برخي دي ولی ددولت اوحکومت په لوړواوجګ پوړوچوکیوکي ګمارل شوی دي.
دوي دخپلو ګټواوډلو ټپلو لپاره دهر چا سره د معا ملي میز ته کښیني او دخپلی خاوری او خلکو دزغم، بی وزلي،بیچارګی، غریبي، مریضی او محرومیت پروا نه کوي، او نه هم ددوي په وینه کی د افغانی ټولني او خلکو دهوساینی کوم ځانګړی احساس شته ، او نه هم دوي ددی ټولنی دراتلونکی خوشبختي د حل لاری چاري لټوی او یا یی د عمل په ډګر کی پلی کوی. ددی ډلي لوبغاړي بیا ځان ترهرچا شیک، شتمن، سیاستوال او معا مله ګر بولي.

دا ډله اوګروپ د اسلام د سپیڅلی دین او کلمی تر نا مه لاندي د انسان وژنی، جسمی تجاوز، غلا او اخلاقی فسادو باندی دومره مشهوردي، چي دوي دبشری حقوقو پرضد دتروریستی او غیرانسانی عملو په کړونوسره دکابل اونورو ولایتونو ښکلي ښارونه وران او ویجاړ کړل. اونن بیا دعدالت اوانصاف پرچوکی ناست دي اوخپلی میلی او چړچی کوي.
که چیری زمونږ په ټولنه کي سیاسی واک د اکثریتی ارادی بربنسټ قانونیت او حقانیت پیدا نکړي او په ټولنه کي ټول اوسیدونکی برابر او مساوی حقوق ونه لری. زمونږ ټولنه به د کرکي، نفرت، تعصب او تشدد تر ضربی لاندی نوره هم وتکول شي، او ټوټه ټوپه به شي. چه وروسته به ددي ښکلی افغا نستان د نامه څخه هم محروم شواو لا لهانده به ګرځو. هغه وخت به دجوړیدو درغونی او دیووالی لاری په ډیری سختي سره لاسته راشي.
کرکه او نفرت دانسانانو په اقتصادی، اداری، دولتي او اجتماعی برخي کی هم د پام وړ اغیزه اچوي. که چیری د یوه هیواد دولتی او حکومتی سیستم او بنسټ ټوله د جزا او مکا فات په درشل کي تر ژوری څیړني او غور لاندی وڅیړو. نومالومه خبره ده چه هرڅوک باید د قانون په چوکاټ کی د خپلی انسانی آزادی په ماحول کی د ژوند ټولی چاري د قانون پربنسټ پر مخ بوزی. ولی زمونږ په افغانی ټولنه کی د حق اوعدالت کاسه نسکوره پرمخ چپه پرته ده. د مجریم او جنایت کارپرځای بي ګناه مظلوم او بیچاره جیل ته استول کیږی. د دي بدمرغی او ناورین د علاج نسخه شته. او هغه داچه هرسړیته باید هرومرو دخپل جرم او جنا یت جزاد قضاوت او عدالت په چوکاټ کي دقانون په بنیاد سره وټاکل شي.
د افغانستان د بیا رغونی په جوړولوکی باید خپله افغانان لویه ونډه واخلي، مګر ددی بیا رغونی په تخنیکی او اقتصادی چاروکي که ضرورت وموندل شي بیا دي د بهرنیانو مرستی پکار واچول شي. یواځی په دی شرط چه ټولی بهرنی مرستي دیوی رسمی تړون پر بنست بیله کومی سیاسی او ستراتیژکی هدفونو په منظور عملی او لاس لیک شي.
بیا هم که مونږ وغواړو په افغانستان کي دژبی او قوم تعصب له منځه یوسوو، نو اړینه ده چه دیوه ملت په نا مه د افغانستان ترنامه لاندی ټولی کرکی، کینی، ناوړی سیالي، ګواښونه، دښمنی اوکرغیړني نا خوالی له فکرونونه وغورځوو او دیوه ازاد افغانستان لپاره کار او زیار وکړو. دلته به وي چه مونږ خپله وجدانې دنده دیوه پاک او سپیڅلې افغان په توګه سرته رسولی وي او په دي ماته ګوډه بیړی کي دیوه ستر انسان په نامه ځان دخپلو خلکو په چوپړکی ور شریک کړو. خو بیا هم مونږ بایددافغا نستان د بیا رغونی لپاره یو پیاوړي بنسټیز او اساسی بنیاد دخلکو د سوکالی او هوسایی په نامه تیار اوجوړ کړو.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

روغه جوړه، سوله، ددوستی صمیمی فضا، یواوبل ته درنښت او دانسانی کرامت ښیګڼی د جوړ جاړی هغه درمل دی، چه مونږ.سره یوځای کوي او د دزخم او ټپ ملهمونه را بندی ایږدي مونږ د روغتیا او سلامتي لوری ته بیایی، نو څنکه به ښه وي چي بیا دیوه مټي افغان په زورسره دکرکی اونفرت ټولی هیلي دړی وړی کړو او ځان ددي ټولنی دیوه اصلی او حقیقی انسان په ښه وټولی نړۍ ته ورو پیژنو.

د پښتون، هزاره، تاجک، ازبک، ترکمن او نورو توکمنیزو سیالیو ته د پای ټکي کښیږدو تر څودیوه نومیالی پیاوړی افغان په نامه ټوله په یوه اراده دا پاشلی او ویجاړ هیواد بیا پر پښو ودروو، او دهندوکش، پامیر او بابا غرونو د ویاړني نوم ژوندی وساتو. مونږ به د یووالی اووحدت دا ستر ارمان دمیرویس نیکه پرپله د لوی احمد شاه بابا کارنامي د وزیر اکبرخان دتوری شرنګ انګیزی دمیوند په جګړه کی دایوب خان میړانه او دملالی پیغلی چیغه ته درنښت ورکړو، او دیوه پر مخ تللی انسان په څیربه خپله جونګړه ودانه کړو ترڅو دهغوي نومونه تل دخپل ځان لپاره دعبرت په ښه د لاری د اصلی هدف لوری وګرځوو. او د خپل راتلونکي ځوان نسل په سمبا لولوکي پوره او ځانګړی ونډه واخلو.

په یومټی او وحدت مي دا وطن سره جوړیږي
که یو نشو په سلګونو لارو ټول سره ورکیږي


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ